بېشکه ستاسو د هر يوه پيدايښت د خپلې مور په رحم کې په څلويښتو ورځو کې داسې راغونډيږي چې

له ابي عبدالرحمن، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، وايي: مونږ ته رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان وکړ، حال دا چې هغه خپله ريښتينی او د ريښتينې په توګه منل شوی دی چې: « بېشکه ستاسو د هر يوه پيدايښت د خپلې مور په رحم کې په څلويښتو ورځو کې داسې راغونډيږي چې بيا د دې په شان د غوښې تکړه شي، بيا د دې په شان کرپندوکی شي، بيا الله تعالى يوه پرښتنه ورولېږي، نو هغه پکې روح پوک کړي، او ورته امر کېږي چې (په اړه يې) څلور شيان وليکي: د هغه رزق، د هغه اجل، د هغه عمل او دا چې هغه به بدمرغه (شقي) وي او که نېکمرغه، نو قسم دې زما په هغه ذات وي چې له هغه پرته بل حق معبود نشته چې ستاسو څخه به يو څوک د جنتيانو عمل کوي تر دې چې د هغه او د جنت تر منځه به يوازې د يوه ذراع (نيم ګز) په اندازه واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې رامخکې شي او د دوزخيانو عمل به وکړي، چې له امله به يې دوزخ ته لاړ شي، او همداراز ستاسې څخه به يو څوک د دوزخيانو عمل کوي تر دې چې د دوزخ سره به يې يوازې يو ذراع (نيم ګز) واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې رامخکې شي او د جنتيانو عمل به وکړي چې له امله به يې جنت ته داخل شي».

[صحيح دی] [البخاري او مسلم روايت کړی دی]

خپلو خبروابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته دا خبره کړې ده او هغه په کې ريښتينی دی؛ ځکه چې الله تعالى ريښتونی ګڼلی دی. هغه وفرمايل: ستاسو څخه د يو تن جوړښت راټوليږي، داسې چې کله يو سړی د خپلې مېرمنې سره يو ځای کيږي، نو د هغه شېندل شوي مني د ښځې په رحم کې د څلويښتو ورځو لپاره د نطفې په شکل کې راټوليږي. بيا علقه وګرځي چې هغه ټينګه او وچه وينه ده، او دا - کار - په دويمه څلويښت کې کيږي، بيا مضغه شي؛ چې هغه د غوښې دومره اندازه ټوټه ده چې ژولو ته برابره وي، او دا په دريمه څلويښت کې کيږي. بيا ورته الله تعالى ملايکه راوليږي، نو د دريمې څلويښت په پای کې پکې روح پوکړي، ملايکې ته امر وشي چې څلور خبرې وليکي: د هغه رزق؛ چې له هغه اندازې نعمتونو څخه عبارت دی چې په خپل عمر کې به يې لاسته راوړي، د هغه اجل؛ او دا په دنيا کې د هغه د پاتې کېدا موده ده، د هغه عمل، چې څه دی؟ او دا چې آيا نيکمرغه دی که بد مرغه. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم قسم ياد کړ چې يو سړی به د جنتيانو عمل کوي او عملونه به يې نيک وي، يعنې هغه څه چې خلکو ته ښکاري؛ تر هغه وخته پورې به همداسې وي، تر دې چې د ده او جنت تر منځه يوازې د يو ګز په اندازه فاصله پاتې شي، يعنې د ده او جنت ته د رسېدو په منځ کې به دومره فاصله پاتې شي لکه د يو ګز په اندازه، نو تقدير او هغه څه به پرې غالب شي چې ورته ليکل شوي دي نو د دوزخيانو عمل به وکړي، نو په همدې سره به يې خاتمه وشي او اور ته به داخل شي. ځکه چې د عمل د منلو شرط دا دی چې په هغه باندې ثابت قدمه پاتې شي او بدلون ورنکړي. او د خلکو څخه يو بل تن به د دوزخيانو عمل تر هغه وخته پورې کوي چې هغه دوزخ ته ننوتلو ته نږدې شي او داسې به وي لکه د ده او د اور تر منځ چې د ځمکې د يو ګز په اندازه واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې غالب شي او هغه څه چې ورته ليکل شوي دي نو د جنتيانو عمل به وکړي او جنت ته به داخل شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66513